# فــــهرست


| شمېره | سرلیک | مخ |
|---|---|---|
| ۱ | حمد | ۱ |
| ۲ | نعت | ۳ |
| ۳ | بي بي عايشه رضي الله عنها | ۵ |
| ٤ | ښوونکی | ۷ |
| ٥ | د مشرانو درناوی | ۹ |
| ٦ | د ښه ملګري ټاکل | ۱۱ |
| ۷ | ترافیکي لارښوونې | ۱۳ |
| ۸ | له کتاب سره مینه | ۱٥ |
| ۹ | د ځان او کالیو پاک ساتل | ۱۷ |
| ۱۰ | د زده کوونکو مسوولیتونه | ۱۹ |
| ۱۱ | د کور په کارونو کې مرسته | ۲۱ |
| ۱۲ | د زده کوونکو تر منځ ښې اړیکې | ۲۳ |
| ۱۳ | د بست کلا | ۲٥ |
| ۱٤ | د بې اتفاقۍ پایلې | ۲۷ |

| شمېره | سرلیک | مخ |
|---|---|---|
| ۱٥ | د چاپېریال پاک ساتل | ۲۹ |
| ۱٦ | متضادې کلمې | ۳۱ |
| ۱۷ | د ماین خطرونه | ۳۳ |
| ۱۸ | ټلویزیون | ۳٥ |
| ۱۹ | کېسه | ۳۷ |
| ۲۰ | د ماشومانو درناوی | ۳۹ |
| ۲۱ | نیوټن | ٤۱ |
| ۲۲ | بشر دوستي | ٤۳ |
| ۲۳ | میلمه پالنه | ٤٥ |
| ۲٤ | ازادي | ٤۷ |
| ۲٥ | ځپه | ٤۹ |
| ۲٦ | ښکلې لیک | ٥۱ |
| ۲۷ | کندهار | ٥۳ |
| ۲۸ | موزیم | ٥٥ |

## فعالیتونه

- ځو زده کوونکي دې په وارسره متن په مناسب اواز په ټولګي کې  ووايي، ښوونکی دې ورته تیروتنه اصلاح کړي.
- یو زده کوونکی دې د تختې مخې ته راشي، بل زده کوونکی دې ورته د متن یو پاراګراف د املا په توګه ووايي اوهغه دې پر تختې ولیکي. بل زده کوونکی دې د هغه تیروتنې ونیسي او  پر تختې دې ولیکي.
- زده کوونکي دې په دوو یا درو ډلو وویشل شي، هره ډله دې د متن د سرلیك په هکله خپل خپل نظر ووايي او استازی دې د هغوی نظر ولیکي. بیا دې د هرې ډلې استازی د تختې مخې ته پورته شي او د خپلو ملګرو نظرونه دې یو په بل پسې پر تختې ولیکي او بیا دې ولولي.
- یو زده کوونکی دې متن د کتاب له مخې ووايي او نور دې متن ته ځير شي.
- ځو زد ه کوونکي دې په وار سره پورته شي.  د لوست د مفهوم په هکله دې خبرې و کړي او نور زده کوونکي دې ورته غوږ ونیسي.

## کورنۍ دنده

زده کوونکي دې په کورکې د لوست د مفهوم په هکله ځو کرښې ولیکي او بیا دې په بل درسي ساعت کې د ټولګي په مخ  کې ووايي .

## فعالیتونه

- څو زده کوونکي  دې په وارسره د لوست متن په مناسب اواز سره ووايي او ښوونکی دې ورسره مرسته اولارښوونه وکړي.
- زده کوونکي دې په دوو ډلو وويشل شي، يوه ډله دې له مور سره دمرستې په هکله څو کرښې  په شريکه د خپل استازي په واسطه وليکي اوبله ډله دې  له پلارسره د مرستې په هکله څو کرښې په ګډه د خپل استازې په واسطه وليکي. بيا دې د هرې ډلې استازی خپله ليکنه د تختې پر مخ وليکي، نور زده کوونکي دې نظر ور کړي.
- له يوې ډلې څخه دې يو زده کوونکی پورته شي، د کور په کارونو کې دې له مور سره د مرستې نومونه واخلي او د بلې ډلې استازی دې له پلار سره د مرستې په هکله د مرستو نومونه واخلي. نور زده کوونکي دې ورته غوږ ونيسي.
- څو زده کوونکي دې پورته شي، د لوست د مفهوم په هکله دې خبرې  وکړي او نور زده کوونکي دې ورته غوږ ونيسي.

## کورنۍ دنده

زده کوونکي دې په کور کې له مور اوپلار سره د مرستې په هکله څو کرښې وليکي او په بل درسي ساعت کې دې ولولي

## فعالیتونه

- زده کوونکي دې یوځل لوست په چوپه خوله ووايي او ستونزمن ځایونه دې په نښه کړي.
- څو زده کوونکي دې په وارسره د لوست متن د ټولګي په مخ کې ووايي.که یې تېروتنه کړې وه، ښوونکی دې د هغوی تیروتنه سمه کړي.
- یو زده کوونکی دې تختې ته پورته شي، د لوست د سرلیك په هکله دې دوه کرښې ولیکي او بیا دې ولولي. نور زده کوونکي دې د هغه تېروتنې په نښه کړي او پر تختې دې ولیکي.
- څو زده کوونکي دې په وار سره پورته شي، د لوست د سرلیك په هکله دې لنډې خبرې وکړي او نور زده کوونکي دې ورته غوږ ونیسي.
- یو زده کوونکی دې پورته شي، د زده کوونکو ترمنځ د ښو اړیکو د نه درلودلو د زیانونو په هکله دې خبرې وکړي او نور دې ورته غوږ ونیسي.

## کورنۍ دنده

زده کوونکي دې په کور کې د زده کوونکو د ښو اړیکو د ګټو په هکله څو کرښې ولیکي او په بل درسي ساعت کې دې ووايي.

# پنځه ویشتم لوست

## خپه

**موخه**: د متن لوستل، لیکل او د خپې په معنا او مفهوم پوهېدل.




### پوښتنې

- څوک به ووایي چې خپه یا هیجا څه ته وایي؟
- په تاسو کې به څوک کومه کلمه په خپو واړولی شي؟

(خپه د کلمې یوه داسې برخه ده چې په یو ځایي ډول له خولې څخه راوځي، لکه: (ما) یوه خپه ده.

د (پښتانه) کلمه درې خپې لري، لکه: پښ - تا - نه. د (بزګر) کلمه دوې خپې لري، لکه: بز - ګر او دغه راز د (بڼ) کلمه یوه خپه لري.

**لاندې متن ولولئ! هغو کلموته ځیر شئ چې کرښه ورلاندې اېستل شوې ده. تاسو یې هیجا کړئ.**

**نن زلمي او دده خور ملالۍ د ښوونځي د ادارې په لارښوونه د ښوونځي په انګړ کې کار وکړ. له نورو زده کوونکو سره یې د ښوونځي انګړ او ټولګي پاک کړل. د زلمي او ملالۍ دا کار ډېر خوښ شو. کله چې دوی له کار څخه وزګار شول او بېرته کورته ولاړل، د ښوونځي د انګړ د پاکولو کیسه یې خپل مور او پلار ته وکړه او هغوي د کیسې په اورېدلو ډېر خوشحاله شو.**

# اووه ويشتم لوست

# کندهار

**موخه**: د متن سم لوستل، ليکل، پر معنا يې پوهيدل او د کندهار په هکله معلومات لاسته راوړل.



**پوښتنه**

تاسوکله د کندهار ولايت ليدلی دی؟

**کندهار د هيواد پخوانۍ مرکز اوپايتخت و چې تيمورشاه بادشاه د افغانستان پايتخت له کندهار څخه کابل ته وليږداوه.**

**نوموړی ښار ډير تاريخي ځايونه لري، لکه: خرقه شريفه، چهل زنه، د احمد شاه بابا او ميرويس خان هوتک مقبرې.**

**اوس مهال په کندهار ښار کې د عينو ښارگوټي نوموړي ښار ته ځانگړي ښکلا او ارزښت ورکړی دی. دنوموړي ښارگوټي نقشه اوپارکونه په هيواد او اسيايي هيوادونو کې ساری نه لري. نوموړی ښارگوټی د تفريح اوميلو لپاره ځانگړي بې ساري پارکونه لري او هره ورځ په زرگونو خلک د سيل لپاره ورځي.**

